# د یعقوب رسول خط

## ایمان او حکمت

١ (١) د خُدائ پاک او د مالِک عیسیٰ مسیح غلام د یعقوب د طرفه دې هغه دولسو واړو قبیلو ته چې په مختلفو قومونو کښې
خوارۀ وارۀ شوی دی، هغوئ ټولو ته دې سلام وی. (٢) اے زما ورونړو او خوېندو، کله چې تاسو په قِسما قِسم آزمېښتونو
کښې راګېر شئ نو خپل ځان بختور ګنړئ. (٣) ځکه چې تاسو ته پته ده چې ستاسو د ایمان آزمېښت صبر پېدا کوی. (٤) نو
پرېږدئ چې صبر په تاسو کښې خپل کار پوره کړی چې تاسو پاخۀ او بالغان شئ او په تاسو کښې به بلکل د څۀ خبرې کمے نۀ
وی. (٥) خو کۀ په تاسو کښې په چا کښې د حِکمت کمے وی نو هغه دې د خُدائ پاک نه وغواړی څوک چې بې‌خفګانه ټولو له
په سخاوت سره ورکوی او تاسو له به یې هم درکړی. (٦) خو په ایمان سره دې سوال کوی او هیڅ شک مۀ کوئ ځکه چې
شک کوونکے د سمندر د هغه چپو په مِثال دے کومې چې د هوا په زور بره او ښکته کیږی. (٧) داسې سړے دې دا نۀ ګنی
چې ګنې ما ته به د مالِک نه څۀ په لاس راشی. (٨) داسې سړے دوه زړیه وی او په خپلو ټولو کارونو ټینګ ولاړ نۀ وی.

## غریبی او مالداری

(٩) نو غریب ورور دې په خپله اوچته مرتبه فخر وکړی، (١٠) خو مالدار دې په خپل عاجز حالت فخر وکړی، ځکه چې مالداره
به لکه د ځنګلی ګل په شان اوچ شی. (١١) څنګه چې د نمر تاو واښۀ او ګلونه اوچوی او د هغوئ ښائست ختموی، نو دغه شان
به مالدار هم سره د خپل ټول کاروبار ختم او د خاورو سره خاورې شی.

## آزمېښت او لمسون

(١٢) بختور دے هغه څوک چې آزمېښت برداشت کړی، ځکه کله چې هغه په آزمېښت کښې قائم پاتې شی نو هغه به د ژوندون
تاج حاصل کړی د کوم چې خُدائ پاک د خپلو مینه والو سره وعده کړې ده. (١٣) د آزمېښت په وخت کښې دې څوک هم
داسې نۀ وائی چې، "زۀ خُدائ پاک ووآزمائیلم،" ځکه چې خُدائ پاک څوک هم په ګناه نۀ آزمائی او نۀ هغه څوک په آزمېښت
کښې اچوی. (١٤) خو هر څوک هغه وخت په آزمېښت کښې پرېوځی کله چې هغه د خپلو شهوانی خواهشاتو په جال کښې راګېر
شی. (١٥) نو کله چې د هغۀ بد خواهش راوچت شی نو ګناه ترېنه پېدا شی، او کله چې ګناه زیاته شی نو مرګ ترې پېدا شی.
(١٦) اے زما خوږو ورونړو او خوېندو، مۀ دوکه کېږئ. (١٧) هر ښۀ او کامِل نعمت زمونږ د خُدائ پلار د طرف نه راځی چا چې
په آسمان کښې نُور پېدا کړے دے. هغه کله هم نۀ بدلیږی او نۀ تیارۀ رالېږی. (١٨) هغۀ د خپل مقصد پوره کولو دپاره مونږ د
حق کلام په وسیله پېدا کړُو نو چې مونږ د هغۀ په مخلوقاتو کښې ورومبی مېوه شُو.

## کلام اورېدل او پرې عمل کول

(١٩) اے زما ورونړو او خوېندو، دا خبره یاده ساتئ چې هر څوک دې په اورېدو کښې تېز او په وینا کښې قلاره او په غصه کښې
سوړ وی. (٢٠) ځکه چې د انسان غصه د خُدائ پاک د صداقت کار نۀ شی کاملولے. (٢١) نو ځکه تاسو ټول د ځان نه د
پلیتوالے او د بدئ ګند لرې کړئ، او هغه کلام ډېر په عاجزئ سره قبول کړئ چې په تاسو کښې کَرلے شوے دے. په دې کښې
ستاسو د ژوند بچ کولو طاقت دے او دا تاسو بچ کولے شی. (٢٢) خو په کلام عمل کوونکی جوړ شئ، او مۀ صرف هغه
اورېدونکی جوړېږئ څوک چې ځان دوکه کوی. (٢٣) ځکه چې هر څوک چې د کلام اورېدونکی دی خو په هغې عمل نۀ کوی نو
هغه د هغه سړی په شان دے څوک چې خپل شکل په آئینه کښې ګوری. (٢٤) او خپل ځان ته د کتلو نه وروستو هغه لاړ شی او
سمدستی ترې هېر شی چې هغه څنګه ښکارېدو. (٢٥) خو کوم سړے چې هغه کامِل شریعت ته په غور سره ګوری چې
خلاصون ورکوی او په هغې عمل کوی او څۀ چې هغه واوری هغه هېر نۀ کړی نو په هغې باندې په عمل کولو به هغه برکت

حاصل کړی. ۲۶ کهٔ څوک خپل ځان دینداره ګڼی او بیا خپله ژبه په قابو کښې نهٔ ساتی، هغه خپل ځان دوکه کوی، او د هغهٔ دینداری بېکاره ده. ۲۷ د خُدائ پلار په وړاندې چې خالص او پاک دین دے یعنې هغه دا چې د یتیمانانو او کونډو په مشکلاتو کښې د هغوئ مدد وکړئ او خپل ځان د دُنیا د ګندګئ نه وساتئ.

## د طرفدارئ په خلاف خبردارے

**۲** ۱ اے زما وروڼو او خوېندو، کهٔ چرې ستاسو زمونږ په مالِک عیسیٰ مسیح ایمان وی څوک چې د جلال مالِک دے، نو بیا تاسو څنګه طرفداری کولے شئ؟ ۲ فرض کړئ چې کهٔ یو سړی د سرو زرو ګوته او ښائسته جامې اغوستې وی او ستاسو د عبادت ځائ ته راشی او یو غریب سړے هم په شلېدلو جامو کښې دننه راشی، ۳ کهٔ تاسو هغه سړی ته زیات اهمیت ورکړئ چې ښائسته جامې یې اچولې وی او ورته ووایئ چې، "دلته بره د دې عزت په ځائ کښې کښېنئ،" خو غریب سړی ته ووایئ چې، "تهٔ هلته ودرېږه،" او یا، "بهر د ور سره نزدې کښېنه،" ۴ نو ولې دا تاسو په خپل مینځ کښې طرفداری ونهٔ کړه؟ او تاسو د بدنیتۍ منصفان نهٔ شوئ؟ ۵ اے زما خوږو وروڼو او خوېندو، واورئ، ولې خُدائ پاک هغوئ نهٔ دی غوره کړی څوک چې د دُنیا په نظر کښې غریب دی چې په ایمان به مالداره شی او د هغه بادشاهۍ وارثان به شی چې مالِک یې د هغوئ سره وعده کړې ده څوک چې ورسره مینه کوی؟ ۶ خو تاسو د غریب سپکاوے وکړو. ولې دا مالداره نهٔ دے چې په تاسو ظلم کوی او عدالت ته مو راکاږی؟ ۷ ولې دا هغوئ نهٔ دی څوک چې د هغه چا د عزتمند نوم په حقله کُفر غږوی په کوم نوم چې تاسو یادېږئ؟ ۸ کهٔ په حقیقت کښې تاسو په هغه شاهی شریعت عمل وکړئ چې په کِتاب مقدس کښې دے چې فرمائی چې، "د خپل ګاونډی سره د خپل ځان په شان مینه کوئ،" نو تاسو ښهٔ کوئ. ۹ خو کهٔ چرې تاسو طرفداری کوئ نو ګناه کوئ او د شریعت په مطابق مجرمان یئ. ۱۰ ځکه کهٔ یو کس په ټول شریعت عمل کوی او صرف په یوه خبره کښې هم خطا وکړی نو هغه د هغه چا په شان دے چې ټول شریعت ماتوی. ۱۱ ځکه چا چې دا فرمائیلی دی چې، "زنا مهٔ کوئ،" نو هغهٔ دا هم فرمائیلی دی چې، "قتل مهٔ کوئ،" نو کهٔ تاسو زنا ونهٔ کړئ او قتل وکړئ نو بیا هم تاسو شریعت مات کړو. ۱۲ نو څهٔ چې تاسو وایئ او څهٔ کوئ خو دا خبره یاده ساتئ چې ستاسو به په هم هغه شریعت اِنصاف کیږی کوم چې تاسو له آزادی درکوی. ۱۳ ځکه چا چې رحم ونهٔ کړو نو په هغهٔ هم د اِنصاف په مطابق رحم نهٔ کیږی. بیا هم رحم په اِنصاف غالب دے.

## حقیقی مومن

۱۴ اے زما وروڼو او خوېندو، کهٔ څوک ووائی چې زهٔ ایماندار یم او نېک کارونه نهٔ کوی نو د هغهٔ د دې ایمان نه څهٔ فائده ده؟ ولې داسې ایمان هغهٔ له خلاصون ورکولے شی؟ ۱۵ فرض کړئ کهٔ تاسو یو ورور یا خور ووینئ چې خوراک یا جامو ته یې ضرورت وی، ۱۶ او تاسو ورته ووایئ چې، "په خیر لاړ شه، ګرم اوسه او موړ اوسه،" خو د کومو څیزونو چې هغهٔ ته ضرورت وی، هغه ورنهٔ کړئ نو د دې فائده څهٔ ده؟ ۱۷ دغه شان ایمان هم دے، کهٔ د دې سره نیکی کول نهٔ وی نو دا ایمان عبث دے. ۱۸ خو څهٔ خلق به وائی چې، "تهٔ ایماندار یې او زهٔ نېک کارونه کوم." تهٔ خپل ایمان بغېر د نېک کارونو نه ما ته وښایه او زهٔ به خپل ایمان درته په نېک کار کولو وښایم. ۱۹ تهٔ په دې خبره یقین کوې چې خُدائ پاک یو دے. دا ډېره ښهٔ خبره ده. اګر چې پیریان هم داسې ایمان ساتی او د یرې نه رپیږی. ۲۰ اے کم عقله، ولې تهٔ په دې هم نهٔ پوهېږې چې د نېک کار کولو نه بغېر ایمان عبث دے؟ ۲۱ نو کله چې زمونږ نیکهٔ اِبراهیم خپل زوئ اِسحاق په قربانګاه د قربانۍ په طور پېش کړو نو ولې هغه په دې کار سره صادق نهٔ شو څهٔ؟ ۲۲ نو تا وکتل چې د هغهٔ ایمان او عمل په شریکه کار وکړو او د هغهٔ دې کار د هغهٔ ایمان کامِل کړو. ۲۳ او د صحیفو هغه لیکل پوره شو چې فرمائی، "اِبراهیم په خُدائ پاک ایمان راوړو او دا د هغهٔ دپاره په صداقت حساب شو،" او هغه خلیل الله وبللے شو. ۲۴ نو تاسو وینئ چې انسان تش په ایمان نه، بلکې په عمل صادق کیږی. ۲۵ نو راحب کنجره هم د دې یو بل مثال دے چې هغې په خپل نېک کار سره د خُدائ پاک صداقت حاصل کړو کله چې هغې هغه جاسوسانو له پناه ورکړه او په بله لار یې رُخصت کړل. ۲۶ نو څنګه چې بدن بغېر د روح نه مړ دے هم دغه شان ایمان هم بغېر د نېک کار کولو نه مړ دے.

## په ژبه قابو ساتل

**۳** ۱ اے زما ورونړو او خوېندو، په تاسو کښې دې اُستاذان زيات نۀ شى ځکه چې تاسو ته پته ده چې مونږ څوک چې
اُستاذان يُو، راسره به لا نور ډېر سخت حساب کِتاب کيږى. ۲ ځکه چې مونږ ټول اکثر غلطيانې کوُو، او څوک چې په خپلو
خبرو کښې غلطى نۀ کوى نو هغه کامِل دے او ټول بدن په قابو کښې ساتلے شى. ۳ مونږ د آسونو په خولو کښې د دې دپاره
واګې اچوو چې زمونږ په مرضى تلل کوى نو دغه شان بيا مونږ د هغوئ پوره بدن هر خوا ته بوتلے شُو. ۴ دغه شان تاسو
سمندرى جهازُونو ته وګورئ اګر چې هغه ډېر لوئ وى او په تېزو هواګانو چليږى خو دا د يو ورکوټى پارو په ذريعه د ماڼکى د
مرضى په مطابق چليږى. ۵ دغه شان ژبه هم يو ورکوټے اندام دے خو ډېرې غټې خبرې کوى ځنګه چې يو ورکوټے
بڅرکے يو لوئ ځنګل ته اور لګوى. ۶ او ژبه هم اور دے، دا زمونږ په اندامونو کښې د شرارت يوه دُنيا ده، دا په ټول وجود
کښې بدى پېدا کوى او زمونږ په ټول ژوندون کښې اور لګوى، او په خپله د دوزخ په اور کښې سوزيږى. ۷ نو چې هر قِسم
ځنګلى ځناور، مارغان، چينجى او کبان د انسان په قابو کښې راتلے شى او راغلى هم دى، ۸ خو څوک هم ژبه په قابو کښې
نۀ شى راوستلے. دا يوه نا آرامه بلا ده او د وژونکى زهر نه ډکه ده. ۹ هم په دې ژبه مونږ د مالِک او پلار ثنا وايو، او هم په
دې مونږ هغوئ ته چې د خُدائ پاک په صُورت پېدا شوى دى، ښېرې کوُو. ۱۰ هم د دې يوې خولې نه برکت او هم ښېرې
راوځى. اے زما ورونړو او خوېندو، په کار نۀ دى چې داسې وشى. ۱۱ ولې د چينې د يوې خولې نه خوږې او ترخې اوبۀ راوځى
څۀ؟ ۱۲ اے زما ورونړو او خوېندو، ولې د اينځر په ونه کښې زيتون، يا په انګور کښې اينځر پېدا کېدے شى څۀ؟ هم دغه شان
د ترخې چينې نه خوږې اوبۀ نۀ شى راوتلے.

## آسمانى حِکمت

۱۳ په تاسو کښې څوک هوښيار او پوهه شته دے؟ هغه دې په خپلو کارونو د نيک چال چلن په وسيله او هغه عاجزۍ سره دې
دا خبره ثابته کړى، چې د حِکمت نه پېدا کيږى. ۱۴ خو کۀ ستاسو په خپلو زړُونو کښې سخته کينه او خود غرضى وى، نو
فخر پرې مۀ کوئ او مۀ د حق خلاف دروغ وايئ. ۱۵ دا هغه حکمت نۀ دے کوم چې د آسمان نه راځى بلکې دُنياوى، نفسانى
او شېطانى دے. ۱۶ ځکه چې چرته چې کينه او خود غرضى وى، هلته به فساد او هر قِسم شرارت هم کيږى. ۱۷ خو چې
کوم حِکمت د آسمان نه راځى، اول خو هغه پاک وى، بيا صُلح خوښوونکے، نرم مزاجه، تربيت خوښوونکے، د رحم او د ښو
مېوو نه ډک، بې له طرفدارۍ او رياکارۍ وى. ۱۸ او صُلح کوونکى د صُلحې سره داسې تخم کَرى چې د صداقت مېوې ترې
پېدا کيږى.

## د دُنيا سره دوستى

**۴** ۱ ستاسو په مينځ کښې جنګ او جګړې د کومه راغلې؟ ولې دا ستاسو د هغه خواهشاتو په وجه نۀ دى چې په تاسو کښې
فساد پېدا کوى؟ ۲ تاسو چې څۀ غواړئ او حاصلولے يې نۀ شئ نو بيا تاسو قتل کوئ. تاسو د نورو خلقو د څيزونو نه سوزئ،
خو تاسو هغه نۀ شئ حاصلولے، نو بيا تاسو د جنګ جګړو نه کار اخلئ. خو تاسو سره هغه څۀ نشته کوم چې تاسو غواړئ
ځکه چې تاسو هغه د خُدائ پاک نه نۀ غواړئ. ۳ تر دې چې تاسو يې غواړئ خو څۀ په لاس نۀ درځى، دا ځکه چې تاسو يې په
بد نيت سره غواړئ، د دې دپاره چې تاسو يې په خپل عيش و عشرت ولګوئ. ۴ اے زناکارو خلقو، ولې تاسو په دې نۀ
پوهېږئ چې د دُنيا سره ملګرتيا کول د خُدائ پاک سره دشمنى کول دى؟ نو ځکه څوک چې د دې شريرې دُنيا سره مينه کوى،
هغه د خُدائ پاک سره دشمنى کوى. ۵ يا تاسو دا ګڼئ چې مقدس کِتاب بې‌فائدې وائى چې، ”خُدائ پاک چې کوم روح زمونږ
په زړُونو کښې اچولے دے، هغه د حسد خواهش ساتى څۀ؟“ ۶ بلکې هغه په مونږ زيات فضل کوى، نو ځکه صحيفې دا
فرمائى چې، ”خُدائ پاک د کبرژنو مقابله کوى خو عاجزانو له فضل ورکوى.“ ۷ نو په دې وجه خپل ځانونه بيا د خُدائ پاک
تابع کړئ، او د اِبليس مقابله وکړئ نو هغه به تاسو نه وتښتى. ۸ تاسو خُدائ پاک ته رانزدې شئ او هغه به تاسو ته رانزدې

شی. اے ګناهګارانو، خپل لاسونه د بدو کارونو نه صفا کړئ او اے دوه زړیو خلقو، خپل زړونه پاک کړئ. ⑨ په خپلو اعمالو ویر او ژړا وکړئ، ستاسو خندا دې په ویر بدله شی او ستاسو خوشحالی دې په غم. ⑩ خپل ځان د مالِک په وړاندې عاجز کړئ او هغه به تاسو له عزت درکړی.

## په نورو ورونړو اِلزام لګول

⑪ اے ورونړو او خوېندو، د یو بل خلاف خبرې مۀ کوئ. څوک چې د خپل ورور خلاف خبرې کوی یا په بل چا اِلزام لګوی، هغه د شریعت بد وائی او په شریعت اِلزام لګوی، خو کۀ تۀ په شریعت اِلزام لګوې نو تۀ په شریعت عمل کوونکے نه، بلکې په هغې قاضی یې. ⑫ خو د شریعت ورکوونکے او قاضی خو یو دے چې د بچ کولو او د هلاکولو قدرت ورسره شته، نو بیا تۀ څوک یې چې په خپل ګاونډی اِلزام لګوې؟

## د فخر خلاف خبردارے

⑬ په تاسو کښې څوک چې دا وائی چې، "مونږ به نن یا سبا فلانکی ښار ته لاړ شُو او هلته به یو کال تېر کړُو او په تجارت کښې به ګټه وکړُو،" ⑭ خو اوس تاسو په دې نۀ یئ خبر چې سبا به څۀ کیږی، ستاسو ژوند څۀ څیز دے؟ د یو دوند په شان دے چې د لږ ساعت دپاره ښکاره شی او بیا فنا شی. ⑮ د دې په ځائ تاسو له دا وئیل په کار دی چې، "کۀ د مالِک خُدائ رضا وی نو مونږ به ژوندی پاتې شُو او دا یا هغه کار به وکړُو." ⑯ خو تاسو په خپلو ډوزو فخر کوئ خو دا قِسم فخر کول بد دی. ⑰ نو بیا کۀ څوک په ښۀ کولو پوهیږی او نۀ یې کوی، نو هغه ګناه کوی.

## دولتمندو ته خبردارے

**۵** ① اے مالدارو واورئ، تاسو په خپلو هغه مصیبتونو چې راتلونکی دی، ژړا او فریاد وکړئ. ② ستاسو مال دولت سخا شو او ستاسو جامې چینجو ووهلې. ③ ستاسو سرۀ زر او سپین زر زنګ شول او د دې زنګ به ستاسو خلاف ګواهی ورکوی، او دا به ستاسو غوښې لکه د اور په شان وسوزوی. تاسو په دې آخری ورځو کښې خزانې راټولې کوئ. ④ ګورئ، کومو مزدورانو چې ستاسو په پټو کښې لَو کړے دے، د هغوئ هغه مزدوری چې تاسو په دوکه ایساره کړې ده، چغې وهی او د لَوګرو فریاد ربُ الافواج خُدائ غوږُونو ته رسېدلے دے. ⑤ تاسو په دُنیا کښې د عیش او عشرت ژوند تېر کړو، او تاسو خپل ځانونه د حلالېدو د ورځ دپاره څورب کړل. ⑥ تاسو صادق سړے قصوروار کړو او ومو وژلو، خو هغۀ ستاسو مقابله نۀ کوی.

## د تکلیف په وخت کښې صبر او دُعا

⑦ نو اے ورونړو او خوېندو، د مالِک تر راتلو پورې صبر وکړئ، لکه څنګه چې یو زمیندار د زمکې د قیمتی فصل په اِنتظار کښې د منی او د سپرلی د باران تر ورېدو پورې صبر کوی. ⑧ نو تاسو هم صبر وکړئ او خپل زړونه مضبوط کړئ ځکه چې د مالِک راتلل رانزدې دی. ⑨ اے ورونړو او خوېندو، د یو بل خلاف شکایت مۀ کوئ نو چې تاسو سزا ونۀ مومئ. ګورئ، قاضی په دروازه کښې ولاړ دے. ⑩ اے ورونړو او خوېندو، کومو نبیانو چې د مالِک په نوم کلام وکړو، د هغوئ تکلیفونه تېرول او صبر کول خپل ځانته نمونه وګڼئ. ⑪ واقعی چې مونږ هغوئ ته بختور وایو څوک چې صبر کوونکی دی. تاسو د اَیُوب د صبر په حقله اورېدلی دی او تاسو د مالِک مقصد هم ولیدو چې مالِک څومره ډېر مهربانه او رحیم دے. ⑫ خو اے زما ورونړو او خوېندو، د ټولو نه لویه خبره دا ده چې قسم ونۀ خورئ، نۀ د آسمان او نۀ د زمکې او نۀ د څۀ بل څیز، بلکې ستاسو "آو" دې "آو" وی او ستاسو "نه" دې "نه" وی، نو چې تاسو د سزا لائق ونۀ ګرځئ. ⑬ کۀ په تاسو کښې څوک په تکلیف کښې وی نو دُعا دې وغواړی، کۀ خوشحاله وی نو هغوئ دې ثنا ووائی. ⑭ کۀ په تاسو کښې څوک بیمار وی نو هغوئ

دې د جماعت مشران راوبلی او د هغهٔ دپاره دې هغوئ دُعا وغواړی او د مالِک په نوم دې هغوئ په تېلو مسح کړی. ۱۵ او
کومه دُعا چې په ایمان سره وغوښتې شی د هغې په وجه به بیمار روغ شی، او مالِک به هغه راپاڅوی او کهٔ هغهٔ ګناهونه کړی
وی نو هغه به ورته معاف شی. ۱۶ نو بیا څکه تاسو په خپلو کښې یو بل ته د خپلو ګناهونو اِقرار وکړئ او د یو بل دپاره دُعا
وغواړئ نو چې تاسو شفا ومومئ. د زړهٔ نه د صادقه دُعا ډېر اثرناکه وی. ۱۷ الیاس زمونږ په شان انسان وو، او هغهٔ ډېر په
جوش سره دُعا وغوښته چې باران دې ونهٔ ورېږی، او تر درې نیمو کالو پورې په زمکه باران ونهٔ ورېدلو. ۱۸ نو چې هغهٔ بیا
دُعا وغوښتله نو د آسمان نه باران ووریدو او په زمکه فصل زرغون شو. ۱۹ اے زما ورونړو او خوېندو، کهٔ څوک په تاسو
کښې د حق د لارې نه واوړی او بل څوک هغه بیا واپس راواړوی، ۲۰ نو تاسو په دې پوهه شئ چې څوک چې ګناه ګار د
ګمراهۍ نه راواړوی، هغه به یو کس د مرګ نه بچ کړی او په ډېرو ګناهونو به پرده واچوی.

pashtobibles.org © یوسفزی ۲۰۱۹